OMB 0970-0554 [تر 2022/08/31 نېټې پورې اعتبار لري]

**د ماشومانو او کورنيو اړوند چارو اداره**

**د کډوالو د بيا ميشتيدنې اداره**

# په يه محدود چاپېريال کې د ځای پر ځای کولو خبرتيا

تاسو د کډوالو د بيا ميشتيدنې د دفتر (ORR) په توقيف کې ياست، او په يو محدود چاپېريال کې ځای پر ځای شوي ياست – چې يو خوندي يا د کاري ډلې خوندي ځای، يا د استوګنې د درملنې مرکز (RTC) دی. دا چې تاسو ولې په يو محدود ځای کی ځای پر ځای شوی ياست، دليل يې په لاندی ډول دی. که تاسو د دې ځای پر ځای کيدنې په اړه کومه پوښتنه لرئ، مهرباني وکړئ د خپلې قضيې له مدير، وکيل، يا د ORR له لوري د حقوقي خدماتو د چمتو کولو له تمويل شوي شخص سره خبرې وکړئ.

| UC نوم | A# | د زیږېدو هیواد | د زیږېدو نېټه | جنسيت |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

| د پاملرنې خدماتو د چمتو کوونکي نوم | د اسانتيا نوم |
|---|---|
| | |

**خوندي پاملرنه:**
ORR موندلې چې تاسو ځان يا نورو ته خطر جوړوئ؛ يا تاسو په يوه جنايي جرم تورن شوی ياست.ORR موندلې ده چې:

- ☐ په جرم تورن ياست، په جرم تورنېدو په حال کې ياست، يا په جرم محکوم شوي ياست؛ يا د جرم د اجرأتو موضوع ده، په سرغړونې کې ښکېل شوي، يا په جرم کې ښکيل شوی ياست.[1]؛
- ☐ د ORR توقيف په اوږدو کې، د تاوتريخوالی يا ناوړه د عمل ترسره کولو لپاره د اعتبار وړ ګواښونه ترسره کړي يا يې کړي دي؛
- ☐ د ORR توقيف په اوږدو کې، د جرم مرتکب شوي، يا يې ګواښ کړی چې مرتکب به يې شئ، يا په جدي او زيان رسوونکو چلند کې ښکيل شوی دي چې خپل ځان په خطر کې اچوي؛
- ☐ داسې چلند کول چې د نه منلو وړ ثابت شوي او د خوندي کارکوونکو د مرکز نورمال کارونه ګډوډوي چېرته چې تاسو ځای پر ځای شوي ياست، نو ستاسو لېږد کېدای شي ستاسو يا د نورو هوساينې لپاره اړين وي؛
- ☐ د ORR په توقيف کې د ځای پرځای کيدو وړاندې دځانې تاوتريخوالی جرمي مخينه لرئ چې نورو ارزونو ته اړتيا لري؛ او/يا
- ☐ يوه داسې مخينه لرئ چې د جنسي تيري سرغړونه پکې مالومېږي، يا غير مناسبې جنسی کړنې مو ترسره کړي وي.

**د کارکوونکو د خونديتوب پاملرنه:**
ORR موندلې چې تاسو ژورې ځارنې ته اړتيا لرئ، خو تاسو دي ته اړتيا نه لرئ چې د پاملرنې چمتو کونکي په يوه خوندي مرکز کی وساتل شئ. ORR داسې انګيرې چې:

- ☐ تاسو د سرپناه د پاملرنې مرکزونو په نورمال فعاليت کې د نه منلو وړ ګډوډي رامنځته کړې ده نو دغه لېږد د نورو له هوساينې څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره اړين دی؛
- ☐ ستاسو د تېښتې خطر شته ؛
- ☐ د ORR توقيف ته د ننوتلو وړاندې يا د ORR پاملرنې پرمهال د چلندي يا کړو وړو د شدت داسې يوه نمونه ښودل شوې، چې د مسلکي کارمندانو لخوا د ځارنې زياتوالي ته اړتيا لري.
- ☐ د عدم تشدد يا مجرم پېژندو داسې جرمي ثبت لرئ چې د خوندي پاملرنې په ځای کې ستاسو د ساتل کېدو مخنيوی کوي، لکه يوازيتوب يا کوچنی جرم.
- ☐ کېدای شي د خونديتوب له مرکز څخه ويستل کېږئ.

د 1995 کال د کاغذي پراني کار د کمولو قانون (Pub. L. 104-13) د عمومي مسؤوليت بيانيه: د دې معلوماتو د راټولولو څخه هدف دا دی چې ORR ته اجازه ورکړي ترڅو مالومات مستند کړي او UC ته د هغه دلايلو په اړه خبر ورکړي چې دوی په محدوده ترتيب کې ځای پرځای شوي. د معلوماتو د داډول راټولولو لپاره د عمومي راپور ورکولو مسؤوليت په اوسط ډول په هر ځواب کې 0.33 ساعته اټکل شوی، چې په دې کې د لارښوونو بياکتنې، د معلوماتو راټولولو او ساتلو لپاره وخت، او د معلوماتو راټولولو بياکتنه هم شامله ده. دا د معلوماتو يوه لازمي ټولګه ده (د فلورس v. رينو د تصفيې تړون، شميره (Flores v. Reno Settlement Agreement, No. CV85-4544-RJK (C.D. Cal. 1996). يوه اداره ممکن دا اجراءات ترسره نه کړي او نه هم د سپانسر چارې عملي کړي، او يو شخص مکلف نه دی چې بايد ځواب ووايي، پرته له هغه چې د OMB اوسمهاله کنټرولي شميره ولري. يوه اداره ممکن د 1995 کال په اداره کې د کاغذ پرانی د کمولو د قانون د اړتياوو سره سم د معلوماتي ټولګې د چمتو کولو يا سپانسر کولو ته اړتيا ونه لري، او يو شخص مکلف نه دی چې په اړه يې ځواب ووايي، پرته له دې چې د اوسمهال اعتباري OMB کنټرولي شميره ښکاره شي. که تاسو د دې معلوماتو راټولولو په اړه کوم نظر لرئ مهرباني وکړئ د UCPpolicy@acf.hhs.gov سره اړيکه ونيسئ.

# په یه محدود چاپېریال کې د ځای پر ځای کولو خبرتیا
## د کډوالو د بیا میشتیدنې اداره

| **د استوګنې روغتیايي مرکز:**<br>ORR دا موندلې چې تاسو یوه جدي رواني ستونزه لرئ چې د بستري ناروغانو په مرکز کې يې هم درملنه نه کېږي او تاسو خپل ځان او نورو ته یو خطر یاست. یوه تصدیق شوي ارواپوه یا ډاکټر موندلې چې تاسو: |
|---|
| ☐ د بستريو ناروغانو په ډله کې د درملنې په موخه د پام وړ مودې وروسته، د رواني روغتیا د نښو په کمولو کې مناسب پرمختګ نه دی ښودلی؛<br>☐ ښودل شوي کړه وړه ستاسو د رواني روغتیا نښو او/یا تشخیص پایله ده او د بستر شویو ناروغانو په چوکاټ کې یې د تشخیص مدیریت نه شي کېدلی؛<br>☐ د رواني روغتیايي نښو او / یا تشخیص په پایله کې د درملنې پراساس ژوري ځارنې ته اړتیا لرئ چې تاسو په ورځنیو فعالیتونو کې د خپلواک ګډون مخه نیسي؛<br>☐ د لنډ مهاله کلینیکي مداخلو له پلي کولو سربېره ځان، نورو، یا ټولنې ته د دوامداره او حقیقي زیان رسولو سبب ګرځي، |

| **د ځای پرځای کولو اړوند پریکړې یا د قضیې د بیاکتنې لنډیز:** |
|---|
| |

ORR به ستاسو په ځای پر ځای کولو بیا کتنه وکړي، لږ تر لږه په هرو 30 ورځو کی به معلومه کړي چې آیا په محدود ډول ستاسو دغه ځای پر ځای کول د اړونده خوندیتوب لپاره لاهم اړین دي او که نه. که تاسو په یو خوندی مرکز یا RTC کی د 30 ورځو لپاره پاتې شئ، کولی شئ غوښتنه وکړئ چې د ORR مدیر ستاسو په ځای په ځای کولو باندې له سره غور وکړي. د دې پروسې په اړه د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د خپلې قضیې له مدیر څخه پوښتنه وکړئ.

که تاسو فکر کوئ چې تاسو په یوه مناسب ځای کی ځای پر ځای شوی نه یاست او یا له تاسو سره ناسم چلند شوي وي نو د یوې ناحیې له فدرالی محکمې څخه غوښتنه کولئ شئ چی ستاسو پر قضیه بیا کتنه وکړي. کولئ شئ چې یوه وکیل ته مرستې لپاره زنګ ووهی.

**د رسید اړوند د UC اعتراف:**

| د UC لاسلیک | نېټه |
|---|---|
| | |

**د پاملرنې اړوند خدماتو چمتو کوونکی مامور:**

| لاسلیک | نېټه |
|---|---|
| | |

**وروستي یادښتونه**

[1] پرته له: یوازېتوب جرمونه چې د جرمي فعالیت په نمونه یا کړنه کې نه شاملیږي او (2) د یو فرد پر وړاندې تاوتریخوالی یا د وسلو کارولو یا لیږدولو کی نه وي شامل (لکه ماتول او ننوتل، ویجاړول، د نشی په حالت کی موټر چلول، او نور)؛ یا کوچني جرمونه چې په هیڅ صورت کې د سخت توقیف لامل نه ګڼل کیږي (لکه.، د پلورنځي څخه غلا کول، چټک موټر چلول، د سولې ګډوډول، له قانون څخه د سرغړونی حالت).